# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۴۰۰ د وري نهمه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۲۹مه | ۷۰۰مه گڼه


همیانی
۵ مخ

## د نورو ځورول په هر دین او فرهنگ کې مردود عمل دی

د ډېری کسانو یوه تر ټولو منفي ځانگړنه د نورو ځورول او آزارول دي، چې په هېڅ دین او فرهنگ کې د منلو نه دي، بلکې تر سره کوونکي یې تر نیوکې لاندې راغلي دي. ...



## احمدي: د کابل په صنعتي نندارتون کې د ۴۰۰ زره افغانیو په ارزښت محصولات پلورل شوي



سوداگرۍ او صنعت وزارت وايي، چې د کابل له صنعتي نندارتون څخه ۳۰۰ زرو خلکو لیدنه کړې او شرکتونو د ۴۰۰ زره افغانیو په شاوخوا کې خپل محصولات پلورلي دي.
د دغه وزارت ویاند فواد احمدي ویلي، چې د صنعت او سوداگرۍ وزارت د ۱۴۰۰ لمریز کال او نوروز جشن په مناسبت د کابل په چهلستون باغ کې درې ورځنی صنعتي نندارتون جوړ کړی و، چې څه د پاسه ۳۰۰ زرو کابل ښاریانو ورڅخه لیدنه وکړه. په دې نندارتون کې د ۶۰ شرکتونو له خوا غالۍ، کرنیز محصولات، لاسي صنایع، زعفران، ودانیز توکي، روغتیايي توکي، وچې مېوې، قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې، کلتوري او هنري اثار په سلو غرفو کې نندارې وړاندې شول چې د کابل ښاریانو له خوا یې تود هرکلی وشو.
د نوموړي په خبره، د روان کال په جریان کې هم د ورته نورو نندارتونو پلانونه لري، چې د سوداگرۍ او صنعت په برخه کې به اغېزمن تمام شي.

# د سولې له هڅو سره هممهاله جنایتونه؛

## په خوست کې د کمپاین ځواکونو د عملیاتو له امله اوولس ملکیان وژل شوي



۳

### په خوست کې د CIA ملېشې لا هم جنایت کوي
۲ مخ

### مور جگړه گټلای شو؛ خو سیاست نه
۲ مخ

### د چین او ایران د ۲۵ کلنې همکارۍ سند کې څه دي؟
۳ مخ

## ملگري ملتونه: د افغان سولې لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوو

د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړې استازې ویلي، چې دغه سازمان به په افغانستان کې د تلپاتې سولې ټینگښت لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي.
د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، دیبورا لاینز دا څرگندونې د بهرنیو چارو وزارت له وزیر حنیف اتمر سره په لیدنه کې کړې دي. د سرچینې په خبره، نوموړې دغه راز په ترکیه کې د افغان سولې خبرو لپاره د چمتووالي په اړه د خبرو سربېره، په افغانستان کې د تلپاتې سولې په تامین کې د سیمې او نړیوالې ټولنې رول مهم وباله او په دغه هېواد کې یې د سولې د بریا او اجماع لپاره، د ملگروملتونو د هڅو د دوام ډاډ ورکړی دی.
د سرچینې په خبره، دواړو لوریو د ملگرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۰۱۳ پرېکړه لیک پر پلي کېدو هم ټینگار کړی او د افغانستان د خلکو د ارادې پر اساس یې د سولې بهیر د بریا هیله کړې ده.
ملگري ملتونه داسې مهال دغه څرگندونې کوي، چې ټاکل شوې د روان کال په اپرېل میاشت کې به د افغان سولې په تړاو په ترکیه کې مهمه ناسته وشي. دغې ناستې ته پر افغان حکومت او طالبانو سربېره، د سیمې او نړۍ یو شمېر نور هېوادونه هم ور بلل شوي دي.

## ولسمشر غني: د هېواد ۵۰ سلنه عواید غلا کېږي



۲ مخ

## عبدالله: نشست صلح افغانستان در ترکیه برای کشور سرنوشت‌ساز است



قرار است نشست بزرگی دربارۀ صلح افغانستان در ماه اپریل امسال در ترکیه برگزار شود که در آن حکومت، سیاست‌مداران، رهبران طالبان و نماینده‌گان شماری از کشورها شرکت خواهند کرد.
با این حال، تاریخ دقیق برگزاری این نشست در ماه اپریل اعلام نشده، اما عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحۀ ملی در گفت‌وگو با یکی از رسانه‌ها گفته است که حکومت افغانستان برای شرکت در این نشست آماده‌گی کامل دارد. به گفتۀ رئیس شورای عالی مصالحۀ ملی، نشست صلح افغانستان در ترکیه، برای کشور سرنوشت‌ساز است.
آقای عبدالله افزوده است که برای انتخاب رئیس‌جمهور از طریق انتخابات، همان‌گونه که در طرح آمریکا آمده است، ابتدا باید یک دولت مشارکتی تشکیل شود. رئیس شورای عالی مصالحۀ ملی با بیان این‌که دولت افغانستان مسألۀ تقسیم قدرت و مشارکت را رد نکرده است، می‌گوید که دربارۀ گفت‌وگوهای صلح اختلاف جدی میان او و رئیس‌جمهور غنی وجود ندارد.
این در حالی‌ست که انتظارات از برگزاری نشست صلح افغانستان که قرار است در استانبول ترکیه برگزار شود، بسیار بالاست و گروه‌های سیاسی و حکومت اعلام کرده‌اند که با طرح ویژه‌یی در این نشست شرکت خواهند کرد.


Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

# په خوست کې د CIA ملېشې لا هم جنایت کوي

د خوصت په صبریو ولسوالۍ کې د کمپاین په نوم ځواکونو عملیات کړي، چې پکې یې ۱۵ ملکي وګړي شهیدان کړي دي. سیمه‌ییز خلک وایي چې په سیمه کې نه جګړه وه او نه طالبان، خو دغو ځواکونو بریدونه کړي او د ښځو او ماشومانو په ګډون یې ۱۵ ملکي وګړي شهیدان کړي دي. سیمه‌ییز خلک دغه راز وایي چې دغو ځواکونو د خلکو څو کورونه هم په بمونو نړولي دي. پرون په ټولنیزو رسنیو د شهیدانو او په ځانګړي ډول ماشومانو تصویرونه خپاره شول، چې ډېر زړه بوږنوونکي وو.

په خوست کې د کمپاین په نوم ځواکونه چې د خوست ساتنې ځواک (KPF) یې رسمي نوم دی، په ظاهره د افغان ځواکونو په چوکاټ کې دي، خو د دغو ځواکونو روزنه، تجهیز، معاش او رهبري ټول د امریکا د استخباراتو لخوا کېږي. د خوست د والي، امنیه قوماندان او نورو چارواکو په ګډون هېڅوک د دغو ځواکونو د جنایتونو او کړنو په اړه نه ځواب ویونکي دي او نه هم پوهېږي چې دا ځواکونه ولې دا کړنې کوي. دوی ان نه پوهېږي چې د دې ځواکونو مشر څوک دی او چېرته اوسېږي. ان دا خبره هم کېږي چې په کابل کې چارواکي نه پوهېږي چې د دې ځواکونو مشر څوک دی او چېرته اوسېږي. له همدې امله هر وخت چې دا ځواکونه عملیات کوي، وحشت کوي، خلک وژني او نورې ورانۍ کوي، چارواکي پټه خوله وي او په اړه یې څه نه وایي.

کمپاین ځواکونه د سي ای اې هغه وحشي قراردادي قاتلین دي، چې په هېڅ ډول یې نه قومانده افغاني ده او نه هم د افغان ځواکونو برخه دي. د دوی کړنې او فعالیتونه یوازې د امریکایي ګټو د خوندیتوب لپاره دي او دوی ته مهمه نه ده چې څومره او څه ډول جنایت کوي. دوی ته دا هم مهمه نه ده چې د دوی کړنې له امنیت او که له ناامنۍ سره مرسته کوي، خو چې هر څه ورته د سي ای اې لخوا وویل شي، همغه کوي او بیا د خپلو جنایتونو په اړه ځواب ویونکي هم نه دي.

اوس باید د دغو ځواکونو جنایت ته په غبرګون کې په دولتي چارواکو د نیوکې تر ځنګ اصلي ګوته سي ای اې او امریکا ته ونیول شي، ځکه دا جنایت د دوی ملېشه ځواک کوي چې حکومت پرې کنټرول نه لري. امریکا باید د خپلو ملېشو او پټو تشکیلاتو د جنایتونو په اړه ځواب ووایي او ټول خلک باید د امریکا پر ضد غږ پورته کړي. اوس چې د سولې خبرې هم روانې دي، د امریکایي ځواکونو د وتلو تر څنګ باید د سي ای اې د دې ملېشو د حضور په اړه هم جدي بحث او پرېکړه وشي. د دې ځواکونو یوازې جنګیالي افغانان دي، خو اوس یې هم روزنه، معاش، قومانده او هر څه د سي ای اې په لاس کې دي. له همدې امله موږ باید د دې جنایتونو اصلي سرچینه چې امریکا او د امریکا استخباراتي او نظامي حضور دی، هېر نه کړو او پر وړاندې یې په ټول توان ودرېږو.

# موږ جګړه ګټلای شو؛ خو سیاست نه

عبدالوحید وحید

ایا موږ په رښتیا سوله غواړو او که د سولې په نوم واک؟ ایا موږ په رښتیا د ولسواکۍ پلویان یو، که د ولسواکۍ په نوم ځانواکي؟ ایا زموږ سیاسي مشران رښتیا هم ملي اجنډا لري که د ملي اجنډا تر شا شخصي ګټې لټوي؟ ایا موږ ته د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنې رښتیا اهمیت لري او که دا خبره یوازې په واک کې د پاتې کېدو بانه ده؟ ایا موږ رښتیا په خپله د خپلو ستونزو د حل وړتیا لرو که دغه خبره مو تش شعار ده؟ ایا زموږ ظاهري خبرې شعارونه او احساساتي ویناوې رښتیا هم زموږ د موخو هنداره دي او که اصلي خبره بل څه ده؟

د «رښتیا» ټکي تر شا هغه حقیقتونه پراته دي چې زموږ سیاسي مشران ورته په رښتیني توګه د ژمنتیا احساس هم نه لري. سولې ته د رسېدو لپاره د سولې بنسټیزو موخو او ارزښتونو ته پیاوړی تعهد درلودل اساسي شرط ګڼل کېږي. هغه تعهد چې زموږ مشران یې نه لري. د ملت له خېټې څخه راپورته شوي ملي مشران نه لرو. چا د دین، چا د ډیموکراسۍ، چا د هېواد، چا د ژبې، چا د قوم او سمت په نوم شخصي دوکانونه پرانیستي دي. موږ په ملي کچه یوه ستر بدلون ته اړتیا لرو.

د ډېر افسوس ځای دی چې موږ د نړۍ په کچه د علم او ټکنالوژۍ په برخه کې له پرمختګونو سره سره له نړیوالو سره د سیالۍ او اوږه په اوږه د تلو وړتیا نه لرو. یو وخت به علم د مؤمن میراث ګڼل کېده، مګر اوس دغه میراث له موږ څخه نورو خلکو خپل کړی دی. موږ د علم فن او معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې پس پاتې یو.

شک نشته چې طالبان د افغاني ټولنې د ټولنیز وجود خورا مهمه برخه ده او له هغوی پرته زموږ ټولنیز وجود نیمګړی دی. هغوی هم لکه بل هر افغان د هیواد او ولس د راتلونکي په هکله په پرېکړو کې برخه اخیستی شي، نیوکې کولای شي، اندېښنې څرګندولای شي او په ملي کچه په سیاسي بدلونونو کې شریک ګرځېدای شي. د ډیموکراسۍ چیغې وهونکي هغه سهوې باید ومني چې د امریکا لخوا د طالبانو د اسلامي امارت له نسکورېدو وروسته د امریکا او د امریکا ملګرو افغانانو لخوا له طالبانو سره سخت ظلمونه وشول. د دې پر ځای چې د بن په غونډه کې ورته د ګډون دعوت ورکړل شوی وای، غږ او غوښتنې یې اورېدل شوې وای، له هر ډول دښمنانه نظامي تحرکاتو پرته په خپلو کورونو کې د امریکایانو او حکومتي چارواکو لخوا ونیول شول، ووژل شول، وځورول شول، له هیواد څخه وشړل شول او یا هم امریکا ته د څو پیسو په مقابل کې وسپارل شول. دغه ډول وحشتونه په هره ټولنه کې غبرګون زېږوي او زموږ په ټولنه کې یې جګړې وزیږولې. ښه بیلګه یې په مسکو کې د ملا فاضل لخوا د دوستم توهین و او دغه خواشینوونکې صحنه د دوستم د هغه مهال ناوړه چلن غبرګون و، چې ملا فاضل امریکا ته د نه سپارلو له ژمنو وروسته دوستم ته تسلیم؛ خو د ژمنې خلاف امریکا ته وسپارل شو.

موږ باید ومنو چې موږ سنجیده مشران نه لرو. موږ اوږدمهاله اړتیاوې، ګواښونه، نیمګړتیاوې، ستونزې او ګټې نشو ارزولای. په لوړو زده کړو سمبال مشران مو هم احساساتي خبرې او جزباتي پرېکړې کوي. موږ د راتلونکي ترینګلي سیاسي امنیتي او اقتصادي وضعیت د ارزونې لپاره ژورلید نه لرو. موږ بالفعل له ګواښ سره د مخ کیدو همت لرو، خو د بالقوه ګواښونو په درک او مدیریت کې پاتې راځو. ای کاش چې د جمهوریت مشرانو د امارت له مشرانو سره له تاوتریخوالي څخه د ډک پخواني چلن اوسني زیانونه شل کاله وړاندې ارزولي وای، نو اوس به مو له شته ستونزو سره لاس او پنجه نه نرمولای.

په هر حال، اوس خبره تر دې کچې راورسېده چې طالبانو جګړه وکړه او مقاومت یې وکړ. د امریکا په شان ستر ځواکمن هیواد یې دېته اړ ایست چې له دغې ډلې سره د جګړې پر ځای مذاکراتو ته لاړ شي. د خبرو او بالاخره د خپلو نیرنګي وړتیاوو او د لوړې کچې انعطاف په کارولو یې وکړای شو چې له طالبانو سره هوکړه لاسلیک کړي او د خپلو تلفاتو کچه صفر ته راښکته کړه. همدغه شان انعطاف او تنزل د یوه بریالي ملت د ځواکمنتیا نښه او خپلو ملي ګټو لپاره یې تر سره کول فضاحت نه؛ بلکې ویاړ دی.

پوښتنه دا ده چې که طالبان له امریکا سره سوله کولای شي، نو ولې دغه کار له افغانانو سره نشي کولای؟ که امریکا له دومره فرعوني مزاج سره سره له طالبانو سره سوله وکړه، نو افغان حکومت باندې څه شوي چې له طالبانو سره سوله نشي کولای؟ نن لږ شان د سر د خوندیتوب په هیله له طالبانو سره د زړه خواله کوم.

منم چې طالبانو سینې سپر کړې، د ګوانتنامو تعذیب خونې او د نورو هیوادونو ځورول او کړاوونه یې وزغمل. د جګړې په ډګر کې یې لاسته راوړنې خپلې کړې، خو د هغوی سیاسي وړتیاوې ټکنۍ دي، د خپلو ځوانانو په فکري روزنه کې نیمګړتیاوې لري. که اوسنیو سهوو ته دوام ورکړي، نو یقیناً به د سیاست په ډګر کې لاسته راوړنې ونه لري. دا نیمګړتیاوې یوازې د طالبانو نه، بلکې موږ ټول افغانان په مسلسله او متواتره توګه له تیرو څو لسیزو راهیسې ورسره لاس او ګریوان یو.

طالبان اوس هم احساساتي فکر کوي چې ناټو یې ماته کړه، امریکا یې په ګونډو کړه، په ټرمپ باندې ټلیفون کاټ کوي او کله چې د طالبانو پلاوی د مذاکراتو خونې ته راځي؛ نو امریکایان ورته د احترام په توګه ولاړېږي وغیره وغیره. دا هغه فکر دی چې دېرش کاله وړاندې مجاهدینو هم کاوه. موږ هیڅ وخت په جګړه کې نه یو مات شوي، خو د سیاست په پېچلي ډګر کې مو کله هم بریا نه ده تر لاسه کړې. هر وخت زموږ د سرښندنو کرېډېټ بل چا اخیستی دی.

طالبانو ته د حکومت په لیکو کې د شته پراخ هر ډول فساد او بې عدالتۍ له امله د ناهیلي شوي ملت د ملاتړ تر لاسه کولو لپاره خورا ستر فرصتونه شته، خو هغوی د حکومتي اړخ له همدغو تشو څخه د ګټې اخیستنې لپاره هیڅ ګام نه دی پورته کړی. د بې باورۍ په رنځ اخته دي. فکر کوي چې ټول مخالفین د هغوی په لیکو کې د اختلاف اچولو هڅه کوي؛ خو واقعیت دا دی چې په طالبانو کې درزونه او اختلافات زموږ ولس او هیواد ته یقیناً زیان اړوي. له امریکا سره په سوله کولو او له افغانانو سره په جګړه کولو باندې یې د افغانانو په باور خاورې واړولې.

له سولې څخه د حکومت په شان هغوی هم ابزاري ګټه اخلي. مجهول او مبهم دریځ یې خپل کړی دی. د راتلونکې مې میاشتې له پیل وړاندې د امریکا وتلو ته د انتظار او له هغه وروسته د جګړو له لارې د بریاوو تر لاسه کولو هڅه کوي.

کیدای شي طالبانو ته د کابل او ارګ نیول شونی کار وي، مګر بشپړ باور لرم چې د کابل امنیت خوندي کول خورا ګران کار او د طالبانو د وس خبره نه ده.

مشوره مو ورته دا ده چې د کابل د نیولو او د واک د انحصار فکر پرېږدئ. سولې ته لاره هواره کړئ او څرګند دریځ غوره کړئ. غوښتنې مو مشخصې او مقابل لوري ته د میز په سر کېږدئ. د افغانستان خلک اوس نسبتاً د شل کاله وړاندې په پرتله له خورا لوړ سیاسي شعور څخه برخمن دي. که طالبان واک هم غواړي، حق یې دی؛ خو د زور او جګړې له لارې نه، بلکې د ازادو او عادلانه ټاکنو له لارې یې ترلاسه کولای شي. د اسلامي نظام قیام لپاره باید مبارزه وکړي. ولس یې د واقعي اسلامي نظام مخالفت قطعاً نه کوي او دغه کار به د هغوی د متین عزم او پیاوړي ارادې ممثل هم وي. البته که د خپل ولس، سیمې او نړۍ په کچه حساسیتونه او نزاکتونه په نظر کې له نیولو پرته غواړي خپل له لاسه وتلی اسلامي امارت بیا قایم کړي، دا به هغه سهوه وي چې جبران کول به یې ناشوني وي. د طالبانو دغه منطق قیاس مع الفارق ښکارېږي چې هغوی لکه څنګه چې د جګړې په ډګر کې بریالي دي، نو په سیاست کې به هم بریا ومومي. باید ومنو چې موږ ټول په ځانګړي ډول طالبان په سیاسي لوبه کې مهارت نه لرو. که کفارو اسلام ته د زیان رسولو هڅه وکړه، نو د اسلام په نوم افراطي ذهنیت هم په مختلفو ډولونو زموږ مقدسات بدنام کړل.

راځئ! په خپلو منځونو کې پر یو بل رحم وکړو. د الله دین ته د دعوت لپاره موعظه حسنه او حکمت وکاروو، تر هرڅه وړاندې له خپلو هیوادوالو سره مشترکات ولټوو او د مشترکاتو پر بنسټ ورسره سوله وکړو. موږ هر پردی له هیواد څخه شړلای شو، خو د هیڅ افغان د شړلو حق نه لرو. د هغو خلکو له ناکامۍ څخه باید زده کړه وکړو چا چې په طالبانو پسې توره راواخیسته او له هیواد څخه یې شړلو ته اړ ایستل. د حذف نفې او شړلو ستراتیژي اوس ناکاره شوې او له وخت څخه تېره ده.

## ولسمشر غني: د هېواد ۵۰ سلنه عواید غلا کېږي



ولسمشر غني وایي چې د هېواد د عوایدو لږ تر لږه ۵۰سلنه غلا کېږي. نوموړي د یکشنبې په ورځ په ارګ کې د ځوانانو د عالي شورا په پرانیستغونډې کې له ځوانانو وغوښتل، چې د عوایدو د غلا د مخنیوي لپاره دې له مالیې وزارت سره خپلې طرحې شریکې کړي.

ولسمشر غني څرګند ونه ویل چې دا عواید څنګه غلا کېږي او څوک یې غلا کوي، خو داسې راپورونه شته چې د افغانستان په ځینو کمرګونو کې زورواکان حاکم دي او فساد هم پکې کېږي.

ولسمشر غني ځوانانو ته په خطاب کې زیاته کړه: «هغه ځوان چې فساد کوي، تعصب کوي، ملي وحدت ته صدمه رسوي او یا واقعاً کفایت د کار نه لري، د دې ځوان په مقابل کې باید تاسې ودرېږئ.»

غني ټینګار وکړ، تر هغې چې افغان ځوانان په دې برخه کې ګامونه پورته نه کړي، په دغه هېواد کې تحرک نه رامنځ ته کېږي. ولسمشر غني په داسې حال کې د افغانستان د نیمایي عوایدو د غلا کېدو خبره کوي، چې تېر کال په دغه هېواد کې د کروناویروس د وبا له امله د افغانستان په عوایدو کې پام وړ کموالی راغلی دی.

مالیې وزارت وایي چې په ۱۳۹۹کال کې یې د ۲۰۸ میلیارده افغانۍ عوایدو راټولولو هدف ټاکلی و، خو د ۱۷۴ میلیارده افغانیو په راټولولو بریالي شوي دي. د یاد وزارت مسوولین وایي، چې د کروناویروس د خپرېدو له کبله عواید کم وو. د یادونې ده چې د افغانستان د عوایدو تر نیمایي زیاته برخه له ګمرګونو څخه ده او پاتې نور یې مالیاتي او غیر مالیاتي عواید دي.

# د چین او ایران د ۲۵ کلنې همکارۍ سند کې څه دي؟

بي‌بي‌سي- پښتو

د چین د بهرنیو چارو وزیر وانگ یي او د هغه ایراني سیال محمد جواد ظریف ورمه ورځ تهران کې د یوې لیدنې په ترڅ کې د چین او ایران د همکاریو سند لاسلیک کړ.

ایراني چارواکو ویلي، دغه سند سیاسي، اقتصادي او استراتیژیک عناصر لري، خو په دې اړه یې نور جزیات نه دي ورکړي.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند سعید خطیب زاده د همکارۍ د دغه سند په اړه د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، دغه سند د ایران او چین تر منځ د همکاریو یوه لار نقشه ده او هیڅ تړون پکې نشته.

په دغه خبرپاڼه کې راغلي، دغه سند کې د پانگونې او یا مالي سرچینو په گډون هیڅ رقم او خاص عدد نشته.

له دې سره هم‌مهاله د نیویارک ټایمز د راپور پر بنسټ، د تړون له مخې چین به په ایران کې د ۴۰۰ میلیاردو ډالرو پانگونې په بدل کې له ایران د راتلونکو ۲۵ کلونو لپاره تېل تر لاسه کړي.

د دغې ورځپاڼې په لیکنه، کارپوهانو ویلي چې د شنبې ورځې تړون تر ډېره همغه ۱۸ مخیزه مسووده ده، چې دغې ورځپاڼې تېر کال تر لاسه کړې وه.

نیویارک ټایمز لیکي، هغې مسودې د چین له لوري ایران کې په لسگونو برخو بانکداري، د لرې لارو اړیکې، بندرونه، پټلۍ، روغتیاپالنې او ټکنالوژۍ د راتلونکو ۲۵ کلونو لپاره د ۴۰۰ میلیاردو ډالرو پانگونه تشریح کړې وه.

د یو ایراني چارواکي او د تېلو سوداگر په وینا، چین به په منظم او لوړ تخفیف تیل تر لاسه کړي.

د انرژۍ په برخه کې د پترولیم اکونومیست په نوم یوې تحلیلي نشریې هم ورته ارقام خپاره کړي دي.

د نیویارک ټایمز د راپور له مخې، دغه مسوده کې د نظامي همکاریو لکه په گډه د نظامي تمرینونو او روزنې همکاري، د څېړنو او وسلو ورکړې په برخه کې گډه همکاري او د امنیتي مالوماتو شریکول هم شامل دي.

د ایران او چین تر منځ د دغه اوږدمهالي سند خبر د اوړي په لومړیو کې راپورته شو، چې ډېرې نیوکې پرې وشوې.

نیوکه‌گر دغه سند له نورو هغو سندونو لکه ترکمانچای سره پرتله کړی او چین ته له اندازې د ډېرو امتیازاتو په ورکړه یې هغه هم په داسې حالاتو کې چې ایران د امریکا له لوری له ځینو بندیزونو سره مخ دی، اندېښنه ښودلې.

د تېرې مې میاشتې په لومړیو کې د ایران پخواني ولسمشر محمود احمدي نژادي له یو بهرني هېواد سره د ملت له سترگو پټ د ۲۵ کلن سند خبرداری ورکړ او ویلي یې دي چې د ایران خلک به هغه په رسمیت ونه پېژني.

د ایران د بهرنیو چارو وزیر په پارلمان کې یادونه وکړه چې دغه تړون هېڅ کوم پټ او محرمانه موضوعات نه لري؛ خو د پارلمان ځینو غړو د هغه خبرې ملنډې بللې دي.

ښاغلي ظریف ویلي، کله چې دغه تړون بشپړ شو، نو جزیات به یې خپاره شي.

په هغه خبر پاڼه کې چې شنبه سعید خطیب خپره کړه راغلي: «په دغه سند کې د هیڅ سیمې سپارل او یا متقابل یا یو اړخیز انحصار موضوع مطرح نه ده، نو له همدې امله د هر ډول انحصاري حق ورکول پکې نشته.»

خبر پاڼه زیاتوي چې په دغه سند کې کومې سیمې یا حوزې د ادارې یا گټه اخیستلو مدیریت ته نه دي ورکړل شوې.

د چین د یو کمربند او یوې لارې نوښت دغه سند ته د رسېدو په موخه پنځه کال وړاندې خبرې پیل شوې وې. چین د سوداگرۍ په برخه کې د ایران عمده شریک دی او پر ایران په ۲۰۱۸ کال د امریکا له لوري د تازه لگول شویو بندیزونو وړاندې چین د ایران د تېلو له لویو پېرېدونکو هېوادونو و.

د دغه تړون وړاندیز په ۲۰۱٦ کال کې د چین د ولسمشر شي جینگ پینگ له لوري تهران کې د ایران له ولسمشر حسن روحاني سره په لیدنه کې شوی و.

سعید خطیب زاده وویل، زمونږ په باور دغه سند د ایران او چین د اړیکو پراختیا کې رول لوبولی شي.

د شي او روحاني د لیدنې پر مهال دواړو د یوې داسې نقشې په رامنځته کولو سره توافق وکړ، چې په بېلابېلو برخو کې متقابله پانگونه وکړي. شي جین پینگ د خپلې واکمنۍ په موده کې د یو کمربند او یوې لارې نوښت پر مخ بیایي، چې د بنسټیزو پروژو د مالي چمتووالي او په نړیواله کچه د چین د نفوذ د ډېروالي طرحه ده.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت په خبرپاڼه کې هم اشاره شوې ده، چې دغه سند د چین د یو کمربند او یوې لارې د نوښت یوه برخه ده.

د چین بهرنیو چارو وزیر چې د خپل ایراني سیال په بلنه یې تهران ته سفر کړی و، د شنبې په سهار یې لومړی د ایران له ولسمشر حسن روحاني او د ایران د رهبر ایت الله خامنه‌یي له سلاکار علي لاریجاني سره ولیدل.

سره له دې چې د ایران د بهرنیو چارو وزارت د دغه سند په اړه د همغږۍ د رسمي مسوول په توگه یاد شوی، خو ویل شوي چې د ایت الله خامنه‌یي سلاکار علي لاریجاني او د پارلمان پخواني رییس د دغه سند په اړه خبرو اترو کې اصلي رول درلودلی دی.

د ایران د دولتي خبري اژانس ایرنا د راپور له مخې، له ښاغلي لاریجاني سره د چین د بهرنیو چارو وزیر په لیدنه کې دواړو خواوو پر هر اړخیز ستراتیژیک مشارکت ولاړو د هر اړخیزو اړیکو پر پراختیا ټینگار کړی دی.

د جمعې په ورځ د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاندې هوا چونینگ وویل: «د دې لپاره چې سیمه له گډوډیو ووځي او ثبات ته ورسېږي، باید د لویو قدرتونو د ژوپولیتیک سیالۍ له سیوري ووځي. د بهرنیو فشارونو او مداخلو پر وړاندې خوندي وي او د پراختیا لارې چې له خپلو سیمه ییزو واقعیتونو سره سمون ولري، تعقیب کړي.»

د ایران د بهرنیو چارو وزارت د چین او ایران تر منځ دغه سند «له ویاړ ډک او د دواړو هېوادونو د ستراتیژیکو اړیکو په گټه» بللی دی.

حکومتي چارواکو تل له دغه سند چې په اړه یې ډېرې گنگوسې مطرح شوې دي، دفاع کړې ده.

ښاغلي وانگ له دې وړاندې سعودي عربستان او ترکیې ته سفر کړی و او تمه ده چې له ایران وروسته متحده عربي اماراتو، بحرین او عمان ته سفر وکړي. هغه ویلي چې سیمه په یو اساس حالت کې ده او وایي چېن چمتو دی چې د اختلافاتو په دایمي حل کې مرسته وکړي.

## د دغه سند جزیات څه دي؟

تر دې وړاندې د ایت الله خامنه‌یي د اقتصادي ډلې مشر علي اقا محمدي د ایران له دولتي ټلویزیون سره په خبرو کې د همکاریو په اړه ویلي وو، چې دغه ۲۵ کلنه همکاري «د اقتصادي پروگرامونو په ټولو برخو لکه نفت او گازو، بریښنایي صنایعو او بنسټیزه پوهه او نورو برخو کې» ده.

پټرولیم ایکانومېسټ چې د انرژۍ په برخه کې یوه تحلیلي رسنۍ ده، د تیر کال د سنبلې میاشتې په ۱۲مه یې لیکلي وو، چې تمه کېږي چین د ۲۸۰ میلیاردو ډالرو په اندازه د نفت او گازو او ۱۲۰ میلیاردو ډالرو په اندازه د ایران د لېږد رالېږد صنعت په برخه کې پانگونه وکړي.

د دغې خپرونې د لیکنې له مخې، له دغې پانگونې سره د نفتو د پیر تخفیف هم و، د پراختیایي طرحو په پلي کولو کې یې چین ته لومړیتوب هم ورکاوه او همدا راز یې د ایران په خاوره کې د چین د پنځو زرو امنیتي ځواکونو حضور ته هم لاره هواروله.

د دغه راپور له مخې چې د محمد جواد ظریف لخوا دروغ وگڼل شو، چین د نفتو یا تېلو، گازو او پتروشیمي محصولاتو په پیر کې له ۳۲ سلنه تخفیف څخه برخمن کېږي او د پیسو په ورکړه کې د دوو کلونو ځنډ حق به هم ولري.

# د سولې له هڅو سره هممهاله جنایتونه؛

## په خوست کې د کمپاین ځواکونو د عملیاتو له امله اوولس ملکیان وژل شوي



په خوست کې تازه په دوو بېلو پېښو کې ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې ده. د راپورونو له مخې، درې ورځې وړاندې د افغانستان د ملي امنیت اړوند کمپاین ځواکونو په صبریو ولسوالۍ کې عملیات کړي چې د ځایي خلکو په خبره، طالبانو ته نه، بلکې ملکي وگړو ته یې تلفات اړولي دي. ویل کېږي چې په دې پېښه کې شاوخوا شل ملکي وگړي چې ښځې او ماشومان پکې شامل دي، وژل شوي دي. افغان حکومت په رسمي توگه په دې اړه څه نه دي ویلي، خو د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون، ځینو سیاسیونو او د سنا غړو دغه پېښه غندلې ده.

سره له دې چې د سولې لپاره هڅې روانې دي، خو لا هم په افغانستان کې خونړۍ جگړه د ملکي وگړو ژوند اخلي. د سړک غاړې ته ځای پر ځای شوي ماینونه، چاودنې، هدفي بریدونه، د افغان ځواکونو عملیات او هوایي بریدونه، هغه څه دي چې هره ورځ ملکي افغانانو ته تلفات اړوي. په تازه پېښه کې په خوست کې شاوخوا شل ملکیان د افغان ځواکونو په عملیات کې وژل شوي دي، چې په ټولنیزو رسنیو کې یې سخت غبرگونونه پارولي دي.

د خوست د صبریو ولسوالۍ اوسېدونکي وایي، چې له نن درې شپې وړاندې په خوست کې مېشتو کمپاین ځواکونو په دغه ولسوالۍ کې عملیات ترسره کړي چې ملکي وگړو ته یې مرگ ژوبله اړولې ده. د دوی په خبره، په دغه پېښه کې د ښځو او ماشومانو په گډون اوولس کسان وژل شوي، خو ځینې سرچینې بیا وایي چې په پېښه کې شاوخوا شل ملکیان وژل شوي دي. د صبریو ولسوالۍ ځایي اوسېدونکي وایي په عملیاتو کې ټول وژل شوي کسان ملکي وگړي دي او له کمپاین ځواکونو سره په دې عملیاتو کې هوایي ځواک هم مرسته کړې ده.

د صبریو ولسوالۍ اوسېدونکي وایي چې پېښه خورا بوږنوونکې وه. د دوی په خبره، په ډېره وحشیانه توگه ملکي وگړي د افغان ځواکونو له لوري وژل شوي او باید حکومت د خلکو پوښتنو ته ځواب ووایي. د قربانیانو د کورنۍ یوه غړي د پېښې په اړه وویل چې په پېښه کې یې زوی او نگور وژل شوي او همدا راز یې د زوی نوی زېږېدلی ماشوم هم په دې ظالمانه عملیاتو کې خپل ژوند بایللی دی. د ده په خبره: «یو مې زوی وژل شوی دی، ځوان زوی مې و، نگور مې یې وژلې ده او نوی زېږېدلی ماشوم هم وژل شوی، ډېره بده پېښه وه».

دوی وایي چې دغه عملیات د هوایي او ځمکنیو ځواکونو له لوري ترسره شوي او ټول یې ملکي وگړي په نښه کړي دي. د ده په خبره، په پېښه کې یې د ماشومانو په گډون د هېڅ ملکي وگړي ژوند ته پام نه دی کړی. د ده په خبره: «له دوی سره چورلکې وې. ډزونه یې کول، د خلکو ژوند ته یې پام نه کاوه، نه یې په ماشومانو رحم کړی، نه په ښځینه وو».

دې پېښې په ټولنیزو رسنیو او د افغان سیاسیونو ترمنځ سخت غبرگونونه پارولي دي. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون رییسې شهرزاد اکبر رسنیو ته ویلي، چې د دې پېښې د څېړلو لپاره باید یو پلاوی وگومارل شي او ژر تر ژره دې د ملکي وگړو د وژل کېدو په تړاو د خلکو ادعا ته ځواب ووایي. نوموړې د ملکي وگړو مرگ ژوبله جنایت بللی او له افغان حکومت یې غوښتي چې په خپلو عملیاتو کې د ملکي وگړو د ژوند خوندیتابه ته جدي پاملرنه وکړي.

پخواني ولسمشر حامد کرزي هم په یوه اعلامیه کې دغه پېښه غندلې او په وینا یې، دغه ډول پېښې د نه منلو دي او افغان حکومت باید ژر تر ژره د ملکي وگړو د خوندیتوب لپاره هڅې وکړي. بلخوا د مشرانو جرگې ځینو غړو هم دغه پېښه په کلکو ټکو غندلې ده او ویلي یې دي چې د ملکي وگړو مرگ ژوبله جنایت دی او باید ژر تر ژره یې مخنیوی وشي. بلخوا پرون هم په خوست کې د یوې چاودنې له امله هم اته ملکیان ټپیان شوي دي.

# ملگري ملتونه: د میانمار پوځ دې ژر تر ژره د لاریونوالو پر وړاندې بې رحمانه اقدامات ودروي

د لاریونوالو پر وړاندې د میانمار د پوځ وروستیو ځپونکو اقداماتو پراخ نړیوال غبرگونونه راپارولي دي. وروسته له هغې چې پوځ د دغه هېواد پوځ واک په لاس کې واخیست، د کودتا د مخالفینو خونړۍ ځپنه یې پیل کړه.

ورمه ورځ په دغو ځپنو کې تر ۹۰ زیات کسان ووژل شول او دا په یاد هېواد کې تر ټولو خونړۍ ورځ بلل شوې ده. د دوولسو هېوادونو نظامي مشرانو د کودتا د مخالفینو ځپنه غندلې او د امریکا، جاپان، جنوبي کوریا، استرالیا او گڼو ناټو هېوادونو په یوه گډه اعلامیه کې ویلي، چې په میانمار کې پوځ د خپل هېواد د خلکو په سترگو کې اعتبار بایللی دی.

په اعلامیه کې راغلي، مسلکي ځواکونه د چلند نړیوال معیارونه تعقیبوي، د خلکو د ساتنې مسوول وي، نه هغوی ته د زیان رسولو لپاره.

په اعلامیه کې د میانمار له پوځه غوښتل شوي، چې له تاوتریخوالي لاس واخلي او د دغه هېواد د خلکو د اعتبار ترلاسه کولو لپاره دې هلې ځلې وکړي. د دې اعلامیې د گډونوالو هېوادونو ډیپلوماټانو هم د میانمار د پوځ په اړه ورته غبرگون ښودلی دی.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن ویلي، چې هېواد یې د میانمار د امنیتي ځواکونو پر خونړۍ ځپنه کرکه ښیي او زیاته یې کړه چې دغه پوځ د یوځو کسانو د خدمت په خاطر د خلکو ژوند قرباني کړ. بلېنکن زیاته کړه، چې د میانمار زړور خلک د پوځ د ترهې واکمنې ردوي.

جنوب ختیځ اسیایي هېواد میانمار ته د اروپایي ټولنې استازولۍ د دې هېواد د وسله وال پوځ ورځ د ترهې او شرم ورځ بللې. په ورته مهال ملگرو ملتونو ویلي، چې د ټکان ورکوونکي تاوتریخوالي له کبله د گڼو کسانو د وژل کېدو راپورونه یې تر لاسه کړي. د دې ادارې عمومي منشي انتونیو گوترېش د ملکیانو وژنه په سختو ټکو غندلې او دا بې رحمانه اقدامات بللي دي. گوترېش د میانمار پر پوځ غږ کړی، چې ژر تر ژره دې د لاریونوالو پر وړاندې ځپونکي اقدامات ودروي.

د سیاسي بندیانو ادارې چې توقیفونه او مړینې ثبتوي، ویلي چې یوازې د مارچ په ۲۷مه په میانمار کې ۹۱ کسان وژل شوي او د مارچ په ۲۸مه دا شمېر ۱۱۴ ته لوړ شوی دی. په میانمار کې د فبرورۍ په لومړۍ نېټه پوځ د دغه هېواد واک په لاس کې واخیست او له هغه راهیسې وضعیت بحراني شوی دی. پوځ د ملکي حکومت مشره انگ سان سوچي له خپلې دندې لرې کړه چې په نتیجه کې یې خلکو د ډیموکراسي په ملاتړ پراخ لاریونونه وکړل. سوچي او نور ډیموکراټیک مشران په بند کې دي. پوځ ویلي، واک یې ځکه په خپل لاس کې واخیست، چې د نومبر میاشتې په ټاکنو کې درغلي شوې وه، خو د یاد هېواد د ټاکنو کمېسیون دا ادعا رد کړې ده.

# د افغان ملي بانک د ۱۳۹۹ مالي کال بررسي شوي مالي راپورونه

mgiworldwide Ilyas Saeed Chartered Accountants
Muslim Business Centre, Charahi Haji Yaqoob, Shahr-e-Naw, KABUL, AFGHANISTAN.
T: 0093 780 780 786
E: basit@ilyassaeedca.com
www.ilyassaeedca.com

## INDEPENDENT AUDITOR'S REPORT

**To the Shareholders of Bank-e-Millie Afghan**

### Opinion

We have audited the financial statements of **Bank-e-Millie Afghan - BMA (the Bank)**, which comprise the statement of financial position as at December 20, 2020, and the statement of comprehensive income, statement of changes in equity and statement of cash flows for the year then ended, and notes to the financial statements, including a summary of significant accounting policies.

In our opinion, the accompanying financial statements present fairly, in all material respects, the financial position of the Bank as at December 20, 2020, and of its financial performance and its cash flows for the year then ended in accordance with International Financial Reporting Standards (IFRSs) issued by the International Accounting Standards Board (IASB) and the requirements of the Law of Banking in Afghanistan along with Laws and Regulations issued by Da Afghanistan Bank (DAB).

### Basis for Opinion

We conducted our audit in accordance with International Standards on Auditing (ISAs). Our responsibilities under those standards are further described in the *Auditor's Responsibilities for the Audit of the Financial Statements* section of our report. We are independent of the Bank in accordance with the ethical requirements that are relevant to our audit of the financial statements in Afghanistan, and we have fulfilled our other ethical responsibilities in accordance with these requirements. We believe that the audit evidence we have obtained is sufficient and appropriate to provide a basis for our opinion.

### Key Audit Matters

Key audit matters are those matters that, in our professional judgment, were of most significance in our audit of the financial statements of the current period. These matters were addressed in the context of our audit of the financial statements as a whole, and in forming our opinion thereon, and we do not provide separate opinion on these matters. We have determined one Key Audit Matter to communicate in our report.

mgiworldwide Ilyas Saeed Chartered Accountants
Muslim Business Centre, Charahi Haji Yaqoob, Shahr-e-Naw, KABUL, AFGHANISTAN.
T: 0093 780 780 786
E: basit@ilyassaeedca.com
www.ilyassaeedca.com

| Key Audit Matter | How the matter was addressed |
|---|---|
| The bank invested in a wholly owned subsidiary "Afghan American Trading Co. Inc. (AATC) which is carried in the books at a cost of USD 2.2 million (AFN 169.620 million). The bank has not prepared consolidated financial statements in respect of its above subsidiary as required under *IFRS 10 Consolidated Financial Statements* due to lack of financial information relating to its subsidiary. | Due to non-availability of audited financial statements since the time of investment, management has adopted the equity method of accounting. The equity method does not allow line by line addition of financial statements instead it accounts for the investment as an asset which is adjusted with the profit or loss from the investment. |

### Other matters

Due to the persistently prevailing economic and security situation of the country, there has been significant decline witnessed in the market values of the immovable properties for the last couple of years. Being out of scope we have not assessed the market values of the immovable properties held as collateral against loans and advances to borrowers.

### Responsibilities of Management and Those Charged with Governance for the Financial Statements

Management is responsible for the preparation of the financial statements in accordance with the basis of accounting as described in Note 2 to the financial statements and for such internal control as management determines is necessary to enable the preparation of financial statements that are free from material misstatement, whether due to fraud or error.

In preparing the financial statements, management is responsible for assessing the bank's ability to continue as a going concern, disclosing, as applicable, matters related to going concern and using the going concern basis of accounting unless management either intends to liquidate the bank or to cease operations, or has no realistic alternative but to do so.

Those charged with governance are responsible for overseeing the bank's financial reporting process.

### Auditor's Responsibilities for the Audit of Financial Statements

Our objectives are to obtain reasonable assurance about whether the financial statements as a whole are free from material misstatement, whether due to fraud or error, and to issue an auditor's report that includes our opinion. Reasonable assurance is a high level of assurance, but is not a guarantee

mgiworldwide Ilyas Saeed Chartered Accountants
Muslim Business Centre, Charahi Haji Yaqoob, Shahr-e-Naw, KABUL, AFGHANISTAN.
T: 0093 780 780 786
E: basit@ilyassaeedca.com
www.ilyassaeedca.com

that an audit conducted in accordance with ISA's will always detect a material misstatement when it exists. Misstatements can arise from fraud or error and are considered material if, individually or in the aggregate, they could reasonably be expected to influence the economic decisions of users taken on the basis of these financial statements.

As part of an audit in accordance with ISAs, we exercise professional judgment and maintain professional skepticism throughout the audit. We also:

- Identify and assess the risks of material misstatement of the financial statements, whether due to fraud or error, design and perform audit procedures responsive to those risks, and obtain audit evidence that is sufficient and appropriate to provide a basis for our opinion. The risk of not detecting a material misstatement resulting from fraud is higher than for one resulting from error, as fraud may involve collusion, forgers, intentional omissions, misrepresentations, or the override of internal control.
- Obtain an understanding of internal control relevant to the audit in order to design audit procedures that are appropriate in the circumstances, but not for the purpose of expressing an opinion on the effectiveness of the bank's internal control.
- Evaluate the appropriateness of accounting policies used and the reasonableness of accounting estimates and related disclosures made by management.
- Conclude on the appropriateness of management's use of the going concern basis of accounting and based on the audit evidence obtained, whether a material uncertainty exists related to events or conditions that may cast significant doubt on the bank's ability to continue as a going concern. If we conclude that a material uncertainty exists, we are required to draw attention in our auditor's report to the related disclosures in the financial statements or, if such disclosures are inadequate, to modify our opinion. Our conclusions are based on the audit evidence obtained up to the date of our auditor's report. However, future events or conditions may cause the bank to cease to continue as a going concern.

We communicate with those charged with governance regarding, among other matters, the planned scope and timing of the audit and significant audit findings, including any significant deficiencies in internal control that we identify during our audit.

**Muhammad Abdul Basit – ACA, CIA, CISA & APRM**
Engagement Partner - Ilyas Saeed Chartered Accountants
KABUL, AFGHANISTAN.
Dated:

MGI ILYAS SAEED
Chartered Accountants
17 MAR 2021
Audit - Tax - Advisory

## Bank-e-Millie Afghan
**Statement of Comprehensive Income**
**For the year ended 20 December 2020 (30-Qaws-1399)**

*Amounts in AFN*

| | Note | 2020 30 Qaws 1399 | 2019 30 Qaws 1398 |
|---|---|---|---|
| | | Year Ended | |
| **Interest income and expenses** | | | |
| Interest income | 21 | **737,263,149** | 1,005,133,271 |
| Interest expense | 21 | **(51,404,217)** | (92,017,894) |
| Net interest income | | **685,858,932** | 913,115,377 |
| **Commission income and expenses** | | | |
| Commission income | 22 | **207,359,825** | 175,996,112 |
| Commission expense | 22 | **(2,743,672)** | (3,932,929) |
| Net commission income | | **204,616,153** | 172,063,183 |
| **Other income** | | | |
| Realized exchange (loss)/gain | | **1,376,779** | 46,470,145 |
| Unrealized exchange gain / (loss) | | **(7,146,077)** | 94,374,542 |
| Gain on revaluation of investment properties | | **-** | 302,579,899 |
| Other operating income | 23 | **176,093,687** | 197,152,156 |
| Total other income | | **170,324,389** | 640,576,743 |
| Total operating income | | **1,060,799,474** | 1,725,755,303 |
| **Operating expenses** | | | |
| Impairment (gain)/ loss on loans - net | 7.3 | **219,557,406** | 198,681,549 |
| Provision / (reversal) on off balance sheet items | | **-** | (601,200) |
| Provision / (reversal) on other assets | | **169,620,000** | (581,293) |
| Personnel expenses | 24 | **303,257,453** | 280,316,799 |
| Depreciation | 9 | **21,921,254** | 20,619,315 |
| Amortization | 10 | **5,297,970** | 9,144,350 |
| Other expenses | 25 | **264,466,723** | 263,641,989 |
| Total operating expenses | | **984,120,806** | 771,221,509 |
| Total operating profit | | **76,678,668** | 954,533,794 |
| Impairment (loss) on investment | | **-** | (74,885,984) |
| Share in profit of associate | | **74,129,074** | 129,696,588 |
| | | **74,129,074** | 54,810,604 |
| Profit before taxation | | **150,807,742** | 1,009,344,398 |
| Taxation | 26 | **(28,249,610)** | (154,118,357) |
| **Profit for the year** | | **122,558,133** | 855,226,041 |

*The annexed notes from 1 to 33 form an integral parts of these financial statements.*

**Chairman BOS** ____ **Chief Executive Officer** ____ **Chief Financial Officer** ____

## Bank-e-Millie Afghan
**Statement of Financial Position**
**As at 20 December 2020 (30-Qaws-1399)**

*Amounts in AFN*

| | Note | 2020 30 Qaws 1399 | 2019 30 Qaws 1398 |
|---|---|---|---|
| **Assets** | | | |
| Cash and bank balances | 5 | **14,628,752,629** | 15,455,529,761 |
| Short-term investments | 6 | **14,731,125,171** | 15,175,779,235 |
| Loans and advances to customers - net | 7 | **4,487,998,836** | 4,038,539,141 |
| Long term investments | 8 | **1,141,126,130** | 1,069,857,056 |
| Property and equipment | 9 | **1,234,910,848** | 1,204,258,141 |
| Intangible assets | 10 | **10,975,538** | 6,317,321 |
| Investment properties | 11 | **4,391,960,252** | 3,359,281,174 |
| Non-current assets Held for Sale | | **-** | 7,017,349 |
| Other assets | 12 | **1,338,133,650** | 1,444,690,496 |
| Total assets | | **41,964,983,054** | 41,761,269,674 |
| **Liabilities** | | | |
| Deposits from bank and customers | 13 | **32,429,831,991** | 32,337,422,738 |
| Current tax liability | 14 | **12,487,269** | 95,240,230 |
| Deferred tax liability - net | 15 | **684,315,450** | 690,060,025 |
| Other liabilities | 16 | **604,191,002** | 526,947,472 |
| Total liabilities | | **33,730,825,712** | 33,649,670,465 |
| **Equity** | | | |
| Share capital | 17 | **1,000,000,000** | 1,000,000,000 |
| Retained earnings | | **6,399,655,565** | 6,277,097,432 |
| Surplus on revaluations - net | 18 | **792,247,503** | 792,247,503 |
| Exchange translation reserves | 19 | **34,313,024** | 34,313,024 |
| General reserve | | **7,941,250** | 7,941,250 |
| Total equity | | **8,234,157,342** | 8,111,599,209 |
| Total liabilities and equity | | **41,964,983,054** | 41,761,269,674 |
| **Contingencies and Commitments** | 20 | | |

*The annexed notes from 1 to 33 form an integral parts of these financial statements.*

**Chairman BOS** ____ **Chief Executive Officer** ____ **Chief Financial Officer** ____

## Bank-e-Millie Afghan
**Statement of Changes in Equity**
**For the year ended 20 December 2020 (30-Qaws-1399)**

*Amounts in AFN*

| | Share capital | Retained earnings | Revaluation surplus | Exchange translation reserve | General reserve | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Balance as at 30 Qaws 1397 (21 December 2018) | 1,000,000,000 | 5,421,871,391 | 792,247,503 | 34,313,024 | 7,941,250 | 7,256,373,168 |
| Profit for the year | - | 855,226,041 | - | - | | 855,226,041 |
| Transfer to Profit and Loss | | - | | - | - | - |
| Other comprehensive income | - | - | - | - | - | - |
| Balance as at 30 Qaws 1398 (21 December 2019) | 1,000,000,000 | 6,277,097,432 | 792,247,503 | 34,313,024 | 7,941,250 | 8,111,599,209 |
| Balance as at 30 Qaws 1398 (21 December 2019) | **1,000,000,000** | **6,277,097,432** | **792,247,503** | **34,313,024** | **7,941,250** | **8,111,599,209** |
| Profit for the year | - | **122,558,133** | - | - | - | **122,558,133** |
| Transfer to Profit and Loss | - | - | - | - | - | - |
| Other comprehensive income | - | - | - | - | - | - |
| Balance as at 30 Qaws 1399 (21 December 2020) | **1,000,000,000** | **6,399,655,565** | **792,247,503** | **34,313,024** | **7,941,250** | **8,234,157,342** |

*The annexed notes from 1 to 33 form an integral parts of these financial statements.*

**Chairman BOS** ____ **Chief Executive Officer** ____ **Chief Financial Officer** ____

## Bank-e-Millie Afghan
**Statement of Cash Flows**
**For the year ended 20 December 2020 (30-Qaws-1399)**

*Amounts in AFN*

| | Note | 2020 30 Qaws 1399 | 2019 30 Qaws 1398 |
|---|---|---|---|
| **Cash flows from operating activities** | | | |
| Profit before taxation | | **150,807,742** | 1,009,344,398 |
| *Adjustments for:* | | | |
| Depreciation | 9 | **21,921,254** | 20,619,315 |
| Amortization | 10 | **5,297,970** | 9,144,350 |
| Associates profit / (Loss) | 8.4 | **(74,129,074)** | (129,696,588) |
| Impairment of investments | 12.5 | **-** | 74,885,984 |
| Net impairment loss on loans and advances | 7.3 | **219,557,406** | 198,681,549 |
| Unrealized gain / (loss) | | **(7,146,077)** | (94,374,542) |
| Provision for other assets | 12.4 | **(169,620,000)** | 1,182,493 |
| Gain on investment property | | **-** | (308,767,899) |
| Provision for retirement benefit | | **4,316,898** | 10,381,070 |
| | | **198,377** | (217,944,269) |
| | | **151,006,119** | 791,400,129 |
| *(Increase)/ decrease in operating assets and liabilities:* | | | |
| Loans and advances to customers | | **(669,017,101)** | (362,067,449) |
| Non current assets held for sale | | **7,017,349** | |
| Other assets | | **276,176,846** | (842,552,133) |
| Deposits from banks and customers | | **92,409,253** | (1,003,697,749) |
| Other liabilities | | **79,426,306** | (16,539,368) |
| | | **(213,987,347)** | (2,224,856,699) |
| Tax Paid | | **(116,747,146)** | (111,579,010) |
| Retirement benefit paid | | **(6,499,674)** | (5,991,341) |
| | | **(123,246,820)** | (117,570,351) |
| Net cash flows from operating activities | | **(186,228,048)** | (1,551,026,921) |
| **Cash flows from investing activities** | | | |
| Long term Investments | 6 | **2,860,000** | (7,590,000) |
| Placements with Banks | | **444,654,064** | (865,897,177) |
| Purchase of intangible assets | 10 | **(9,956,186)** | (107,605) |
| Capital expenditure in investment properties | 11 | **(1,032,679,078)** | - |
| Purchase of property and equipment | 9 | **(52,573,961)** | (34,268,705) |
| Net cash flows from investing activities | | **(647,695,161)** | (907,863,486) |
| **Cash flows from financing activities** | | | |
| Net cash flows from financing activities | | **-** | - |
| **Net increase in cash and cash equivalents** | | **(833,923,209)** | (2,458,890,408) |
| Cash and cash equivalents at beginning of year | | **15,455,529,761** | 17,820,045,626 |
| Unrealized exchange gain / loss | | **7,146,077** | 94,374,542 |
| **Cash and cash equivalents at end of year** | 20 | **14,628,752,629** | 15,455,529,761 |

*The annexed notes from 1 to 33 form an integral parts of these financial statements.*

**Chairman BOS** ____ **Chief Executive Officer** ____ **Chief Financial Officer** ____

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳۵ |
| € | ۹۱,۱ |
| Rp. | ۴۹۲ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,۲ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# د نورو ځورول په هر دین او فرهنګ کې مردود عمل دی

ژباړه: حمیدالله حمیدي

د ډېری کسانو یوه تر ټولو منفي ځانګړنه د نورو ځورول او آزارول دي، چې په هېڅ دین او فرهنګ کې د منلو نه دي، بلکې تر سره کوونکي یې تر نیوکې لاندې راغلي دي. هغه کسان چې د نورو د ځور او ازار لامل کېږي، په اصل کې خپل ځان ته ستونزې جوړوي، ځکه د هغه مشهورې اصطلاح له مخې چې هر عمل عکس العمل لري، نو یوه ورځ به دوی خپله په دې ستونزه کې را ګیر وي.

په عمومي ډول ځور او ازار هر هغه عمل ته ویل کېږي چې په ګفتاري یا رفتاري ډول د بل چا د روحي، جسمي او یا مالي زیان لامل شي. د یوه انسان کړنې او خبرې د هغه د برخلیک په برخه کې اساسي اغېز لري. لکه څرنګه چې ښې کړنې یو انسان لوړو مرتبو ته رسولی شي، نو امکان لري چې ناوړه چلن هم د ځان د ارزښت او احترام د له منځه تلو لامل شي.

د نورو ځورول او ازار هغه که په هر ډول او عنوان وي، انسان ته ضربه رسوي او نه یوازې دا چې د اخروي عذاب لامل کېږي؛ بلکې نړۍ هم په هغه دوزخ بدلوي چې انسان پکې عذابویني. هرو مرو به مو لیدلي وي، کله چې ثوک خپل خپلوان په یوه مجلس کې مسخره کوي، نو د مجلس ټول ناست کسان هم خپلې خبرې همدې کس ته متوجه کوي. یوازې یو ځل له ځان سره فکر وکړئ، که تاسو له همداسې یوه حالت سره مخ شی او پر یوه ځای د ټولو دوستانو لخوا مسخره شی؛ نو احساس به مو څه وي؟ شوخي، ټوکې جوړول او ټوکې کول خپل ځای او حد لري، هسې نه چې د یوه چا شخصیت ته توهین پکې شي او د ځور لامل یې شي. د نورو ځورول او ازارول یوه ډېره جدي مسئله ده، چې له بده مرغه نن سبا ځینې کسان هېڅ ارزښت نه ورکوي. دوی په ډېره اسانۍ سره یو ثوک ځوروي او ازار ور رسوي. موږ په خپله کورنۍ، ملګرو، خپلو خپلوانو او شاوخوا خلکو کې داسې کسان پېژنو هرڅه یې چې زړه وغواړي وایي او یا یې په پیغامونو کې لیکي؛ هغه هم پرته له دې چې پر عواقبو یې فکر وکړي. زه ډاډه یم (همدا اوس مو همداسې یو ثوک ذهن ته درغلل). دغه ډول کسان ځان ته صاف او رښتیني خلک وایي، په داسې حال کې چې دوی نورو ته احترام او درناوی نه کوي او پرته له دې چې ځای او وخت په نظر کې ونیسي، خپلې خبرې کوي چې بیا وروسته د لسګونو ستونزو او ان د اړیکو د پرېکېدو لامل کېږي.



د دې چلن اغېز کېدای شي دومره ژور وي، چې تر وروستۍ سلګۍ له یاد کس سره پر اړیکو سیوری وغوړوي. دغه موضوع په رسمي او اداري نړۍ کې هم کولای شي د خلکو پر ژوند او دنده باندې منفي اغېز ولري.

ځینې کسان یو دم خپل کنټرول له لاسه ورکوي. دوی په دې اړه فکر نه کوي چې کېدای شي خپلې خبرې یې وروسته ستونزه ورته پیدا کړي. ان کېدای شي یو کس د ده له خبرو زیان وویني او دغه کس چې تېروتنه یې کړې ده، وروسته پر خپلو کړو پښېمانه کېږي، خو بیا وروسته پښېماني ګټه نه لري. ان کېدای شي ښښنه وغواړي؛ خو هغه وخت بیا ښښنه هم کوم درد نه شی دوا کولای.

رهبران (دلته مې یوازې سیاسي رهبران هدف نه دي) باید هغو کلمو یا جملو ته پام وکړي چې کاروي یې؛ ان کېدای شي دغه کلمات یې د بریا او ماتې اصلي دلایل شي. کېدای شي په دې منځ کې ځینې یې همدې کړنو ته د نه پاملرنې له امله بریا ته ورسېږي، خو لوی رهبران د کلمو قوت ته په کتو ښه او ستر ویناوال دي. له همدې کبله د کاروبار په برخه کې د ځینو ویناوالو خبرې تلپاتې شوې دي او اوس هم د خلکو په خوله دي او د ځان لپاره یې الګو ټاکلې ده.

کلمې کېدای شي جوړوونکې یا نړوونکې اوسي؛ کولای شي انګېزه ورکړي او یا هم له یوه کاره د سړي زړه تور کړي. موږ ټول په خپل شخصي او کاري ژوند کې د هغو ادبیاتو په وسیله چې لرو یې، خپلې اړیکې جوړوو. خلاصه دا چې ژبه دومره لوی توان او قدرت لري چې سترګې نه شي ور باندې پټېدای، ژبه کولای شي بدلون رامنځ ته کړي هغه که مثبت وي او یا هم منفي.

نو ښه ده داسې خبرې وکړو چې ګواکې هره جمله چې موږ یې په ژبه وایو، وروستۍ جمله مو ده. ان ځینې وخت تر ټولو ښه کار دا دی چې پټه خوله اوسو. تل دا سپارښتنه کېږي، چې که ښه خبره نه شی کولای، غوره دا ده چې چوپ اوسئ.

په یوه اداره کې د رهبرانو او مدیرانو ځای د شخصي ژوند له ځای ځایګي څخه ډېر پورته او لوړ وي. د همدې موقعیت څرنګوالي ته په کتو د ځینو نورو پر ژوند هم اغېز ښیندلی شي. یوه غیره معقوله نیوکه کولای شي د یوه کس ټوله ورځ ور خرابه کړي او له منځه یې یوسي. د همدې حالت دوام کېدای شي ټول عمر د یوه کس کاري او خصوصي ژوند تر سیوري لاندې راولي.

البته دغه څه د پر ځای نیوکې په برخه کې هم صدق کوي. یوه مثبته خبره کولای شي د کار کوونکو د مشارکت د لوړېدو، د ټیم په منځ کې د یوه سالم فرهنګ د دود کېدو او یا د یوه انسان د ژوند د بدلون لپاره کافي وي.

ستاسو د څرګندونو ډول، لیدلوری او د خبرو طرز ستاسو د ټول شخصیت ښکارندویي کوي او ستاسو پر ټولو شاوخوا خلکو باندې اغېز لري. هغه کلمې چې تاسو یې کاروی، ستاسو د بریا او ماتې په برخه کې رول درلودلی شي؛ هغه که په کاري او یا هم خصوصي ژوند کې وي. نو که کله مو احساس وکړ چې پرته له فکر کولو غواړی یو څه ووایی، نو له واټن پرته یو څه مکث وکړئ او د خبرې ټول اړخونه مو ښه وسنجوئ. ډاډه اوسئ چې همدغه عادت کولای شي ستاسو په ژوند کې ډېر بدلون راولي.

د رفتاري ځورولو او ازار تر څنګ د ویلو یا خبرې کولو له لارې هم ډېر خلک ازارېدلای او ځورېدلای شي چې مقابل لوري ته د لسګونو ستونزو او ننګونو رامنځ ته کېدو لامل کېږي. ولې موږ باید په رفتاري او ګفتاري ډول د یو چا د ازار او ځور لامل شو؟ که فکر کوی چې ځینې وخت دغه ډول حس درته پیدا کېږي، نو لاندې ټکو ته پام وکړئ:

**۱. د ځان ارزول**

ځان مو و ارزوئ او تېروتنې مو وپېژنئ. دا کیدای شي ستاسو یوه ځانګړنه، عادت او یا په تاسو پورې اړوند بل داسې څه وي چې خلک یې ځوروونکي او ازار ورکوونکي بولي.

**۲. مرسته وغواړئ**

که خپلو تېروتنو ته پام نه شی کولای، له یوه داسې ملګري مو مرسته وغواړئ چې باور پرې لری.

**۳. د اړیکو راتلونکې مو په پام کې ونیسئ**

که نه غواړی نور له چا سره د ملګرتیا اړیکه وپالی او یا دا چې غواړی په ټوله مانا یې نور له ژوند وباسی، نو بیا واک له تاسو سره دی چې څنګه دې اړیکې ته د پای ټکی ږدئ. خو دا مو باید په یاد وي چې د یوه سلام په کچه کې ورته تش ځای پرېږدئ، ځکه که په راتلونکې کې له یو بل سره وینی، نو لږترلږه یو بل ته خو سنت سلام ورکړئ.

**۴. له هر توري او کلمې ویلو وروسته ودرېږئ او فکر وکړئ**

د ژوند په هره مرحله کې باید درېدل تمرین کړو. کله چې غوسه یو باید وقفه او فکر وکړو، کله چې خبرې کوو باید وقفه او فکر وکړو. که داسې وکړو هغه ده چې لږ داسې تېروتنې به کوو چې د خلکو د ازار او ځور لامل کېږي.

**۵. په یاد مو وي چې...**

خبرې رایحه (د بوی یو ډول) لري، بوی لري او عطر لري.
زموږ د خبرو رایحه تر ساعتونو پورې زموږ پر وجود کېښې او پاتې کېږي.
تر ډېره وخته په فضا کې پاتې کېږي.
تر کلونو په خاطرو کې د ځان لپاره ځای ګوري.
د خبرو عطر مو که هر څنګه وي، تُند او تریخ، ګرم او خوږ، تېز او پاروونکی، آرام او روح پارونکی...
موږ په خاطرو کې یادوي...
د خبرو د رایحې ورم مو وټاکئ او پوه شی چې په یاد پاتې کېږي.

# عطایي: له استرالیايي کمپنۍ سره د کانونو په اړه تړون د اندېښنې وړ دی

په افغانستان کې د کانونو د سروې او مطالعې په اړه له استرالیايي فورټېسکو فیوچر کمپنۍ سره تړون یو ځل بیا اندېښنې راپورته کړې دي. د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې چارواکي وايي، د افغان حکومت دغه کړنه د خصوصي سکټور لپاره د اندېښنې وړ مسئله ده.

د دې خونې عامل مشر شفیق الله عطایي وايي، روان وضعیت خصوصي سکټور له ستونزو سره مخ کوي: «فورټېسکو فیوچر کمپنۍ ته د افغانستان د ۱۷ ولایتونو چې لسګونه کانونه پکې دي، د سروې او مطالعې چارې د افغان دولت له خوا سپارل، یوه اړخیزه پرېکړه ده او د دغه تړون ورکړه دې شرکت ته پرته له دې چې د افغانستان د کانونو قانون په نظر کې ونیول شي، ورکړل شوی چې دا په افغانستان کې د سوداګرۍ پر روحیې منفي اغېز پرېباسي.»

د عطایي په خبره، که د کانونو په اړه تړونونه بهرنیو کمپنیو ته ورکول کېږي، باید د افغانستان د کانونو د قانون په رڼا کې وي. په رسنیو کې د خپرو شویو راپورونو پر بنسټ، دغه تړون د داوطلبۍ له وړاندې کولو پرته ورکړل شوی، دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د کانونو قانون د ۴۰مې مادې له مخې، د کانونو کیندلو تړون یوازې د کانونو قانون د ۴۱مې مادې د حکم مطابق د داوطلبۍ بهیر تر سره کېدو له لارې ورکول کېږي او له دې پرته بې داوطلبۍ د کانونو تړون ورکول د افغانستان په هېڅ قانون کې صراحت نه لري.

د افغان حکومت او استرالیايي شرکت ترمنځ د شوي تړون له مخې، افغان دولت د ۱۷ ولایتونو کانونه پرته له دې چې د کان مشخص نوم یاد شي، یاد شرکت ته ورکوي او افغان حکومت تر پنځو کلونو نه شي کولای له یاد شرکت پرته هېڅ کس یا شرکت ته د هېواد کانونو کې د فعالیت اجازه ورکړي.

د تړون له مخې، که فورټېسکو فیوچر کمپنۍ ونه شي کړای په ټاکل شوي وخت (پنځو کلونه) کې خپل فعالیت بشپړ کړي، افغان دولت دغه وخت غځوي، خو د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند عزیز غروال وايي، له فورټېسکو شرکت سره یوازې د سروې هوکړه لیک لاسلیک شوی: «د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت له فورټېسکو فیوچر کمپنۍ سره هېڅ ډول استخراجي، او اکتشافي قرارداد نه دی لاسلیک کړی، بلکې د اقتصادي مطالعاتو په موخه یې له دغه شرکت سره یو تفاهم لیک لاسلیک کړی، چې موخه یې یوازې په هغه کاني او معدني ساحو کې اقتصادي مطالعات دي چې په تړون کې راغلي دي.»

نوموړی په ټینګار سره وايي، هغه بنسټونه چې په دې برخه کې نیوکه لري، یو ځل بیا دې د افغان حکومت او یادې بهرنۍ کمپنۍ سره شوې تړون ولولي، خو دغه هوکړه لیک له دې وړاندې هم له غبرګونونه سره مل وو.

په ورته مهال د ملي امنیت پخواني رییس رحمت الله نبیل پر خپله فېسبوک هغه مهال لیکلي وو چې په عمده او پرچون ډول د افغانستان پلور، له بده مرغه ډاکټر اشرف غني او هغه ته نږدې کړی ټول شوي او افغانستان یې فورټېسکو استرالیايي کمپنۍ ته ښبلی دی. هغه وايي، که دغه کار په اګاهانه ډول وي، ملي خیانت دی او که غفلت شوی وي، ملي جرم دی.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۴۰۰ د وري نهمه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۲۹مه | ۷۰۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۱۷ | ۲۸ | ۱۳ | ۲۸ | ١٤ |
| ۳ | ۳ | ۹ | ۷ | ۱۲ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۱ | لمر ختل ۰۵:٤٦ | ماسپښين ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰٤:۲٦ | ماښام ۰٦:۱۱ | ماخوستن ۰۷:۳۲

## نړۍ




## راپورونه: په اندونیزیا کې په دوو چاودنو کې ۱٦ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



اندونیزیایي چارواکي وايي چې د سولاویسي ولایت د مکاسار په ښار کې په دوو غبرګو چاودنو کې دوه کسان وژل شوي او ۱۴ نور ټپیان دي.

پولیس وايي دوه تنه چې ځانمرګي برید کوونکي وو، په ځان پورې تړلې چاودېدونکې توکي يې د يوې کاتولیک کلیسا مخې ته چولي چې یاده مرګ ژوبله پکې اوښتې ده.

د پولیسو یو ویاند ارګو یوونو، ویلي چې امنیتي ځواکونو دوه تنه مشکوک ځانمرګي برید کوونکي د کلیسا په دروازه کې ودرول او وروسته چاودنې وشوې. د پولیسو دې چارواکي زیاته کړه، «موږ شک درلود چې مجرمین دوه تنه دي او په موټر سایکل سپاره وو او غوښتل يې چې د کلیسا انګړ یا دروازې ته ځانونه ورسوي.» پېښه داسې مهال شوې د کاتولیک فرقې پیروان کلیساګانو ته د عبادت لپاره په ډلهییزه توګه ور روان وو. پولیس همدرانګه وايي چې تر اوسه په دې پېښه کې دوه کسه وژل شوي او ۱۴ نور ټپيان شوي او دوی د پېښې په تړاو خپلې پلټنې هم پیل کړې دي. د اندونیزیا د مذهبي چارو وزیر یاقوت چولیل قایوماس، دا چاودنې په سختو ټکو غندلې. قایوماس په يوې ویډیويي پیغام کې ویلي: «زه د ټولو مذهبونو د مشرانو نه غواړم چې خپلو پیروانو ته په ټینګار سره ووايي چې تروریزم په هیڅ مذهب کې توجیه کېدای نه شي. مذهب موږ ته د مینې، سولې او د یو بل سره د مینې کولو درس راکوي. کوم ناوړه عمل چې نن مونږ ولید، د هیڅ مذهبي ډلې چال چلند نه شي کېدای.»

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له دوو میلیونو او ۷۹۲ زرو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۲۷ میلیونه او ۴۹۰ زره او ٦۳۱ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۷۹۲ زره او ۱۴۸ کسان مړه شوي او له ۱۰۲ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي. د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۰ میلیونه او ۹۲۲ زره او ۳٦۰ ته رسېدلي او ۵٦۲ زره او ٦۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. دغه راز برازیل د ۱۲ میلیونه او ۴۹۰ زره او ۳٦۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، هند د ۱۱ میلیونه او ۹۸۷ زره او ۸٦۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د څلور میلیونه او ۵۱۹ زره او ۸۳۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د څلور میلیونه او ۵۰۸ زره او ۵۷۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. بریټانیا، ایټالیا، هسپانیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

**کمیسیون حقوق بشر:**

## کمیسیون حقوق بشر: شمار افراد دارای معلولیت در ۱۴ سال گذشته ۱۱ درصد افزایش یافته است



کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان یافته‌های گزارش تحقیقی‌اش از «وضعیت حقوق بشری اشخاص دارای معلولیت در افغانستان ۱۳۹۹» را منتشر کرد. یافته‌های این گزارش نشان می‌دهد که در ۱۴ سال گذشته شمار افراد دارای معلولیت بیش‌تر شده است.

بر بنیاد یافته‌های این گزارش کمیسیون مستقل حقوق بشر، شمار افراد دارای معلولیت به دلیل جنگ، ناامنی و انفجار ماین‌ها در این مدت، ۱۱ درصد افزایش داشته است. در این تحقیق با یک‌هزار و ۵۰۴ تن در ۲۲ ولایت کشور مصاحبه شده است که یک‌هزار و ۱۹۲ تن آن مرد و ۳۱۰ تن دیگر آن زن بوده‌اند.

یافته‌های کمیسیون مستقل حقوق بشر نشان می‌دهد که ۱۳.۹ درصد کل جمعیت کشور؛ یعنی چهار میلیون و ۴۷۵ هزار و ۸۰۰ تن را افراد دارای معلولیت تشکیل می‌دهند. این کمیسیون گفته که میزان افراد دارای معلولیت در ۱۴ سال گذشته ۱۱.۲ درصد افزایش یافته است.

براساس یافته‌های این تحقیق، از میان یک‌هزار و ۵۰۴ تن از مصاحبه‌شونده‌گان، یک‌هزار و ۴۲ تن (٦۹.۳ درصد) دارای معلولیت فیزیکی از نوع نقص عضو، ۲۹۴ تن (۱۹.۵ درصد) معلولیت حسی فیزیکی، ۴۲ تن (۲.۸ درصد) دارای معلولیت بیولوژیکی و متابولیسمی مانند بیماری‌ها یا عارضه‌های دیابت، فشارخون، صرع، مهرگی و اوتیسم و ٦۸ تن (۴.۵ درصد) معلولیت ذهنی و روانی بوده‌اند. هم‌چنان ۵۸ تن (۳.۹ درصد) دیگر نیز دارای معلولیت مضاعف بوده؛ به این معنا که دو یا بیش از دو نوع معلولیت داشته‌اند.

## ژونــــد

## د پرېکړو کولو لپاره دقیق فکر وکړئ




د ټولو پرېکړو لپاره باید دقیق فکر وکړئ او په پوره احتیاط سره ګام اوچت کړئ. که مو د ژوند په اړه په پوره دقت سره فکر کړی وي او کلک هوډ او ځانګړې موخې لرئ، نو بیا د دې لپاره هېڅ دلیل هم نه پاتې کېږي، چې ستاسو ژوند په شا روان دی، تاسو باید پرمختګ وکړئ. پر ډېرو څېزونو فکر کول او په یوه وخت د زیاتو موخو ټاکل تاسو له اصلي موخې ګرځوي او لاره دربانديې ورکوي. هېڅکله هم مه وایئ «له خبریالۍ سره مینه لرم، خو که خبریال نه شوم، معلمي خو کولای شم» نه، دا خبره سمه نه ده، که په زړه کې له خبریالۍ سره مینه لرئ، بیا نو په ټوله پیاوړتیا سره هماغه مسیر تعقیب کړئ، له مخې مو هر ډول خنډ لرې کړئ او مخ ته ولاړ شئ، خو بریالي شئ. هېڅکله هم د یو کار کولو په اړه دوه زړیتوب مه کوئ. دومره خپلې موخې ته د رسېدو لپاره هڅه وکړئ او د ستونزو پر وړاندې ودرېږئ، چې په پای کې درته یوه دروازه خلاصه شي او د هیلو لمر مو ژوند ته رڼا در وښښي.

## اوپو؛ فاینډ اېکس۳ پرو موبایل بازار ته وړاندې کړ

اوپو کمپنۍ خپل د فاینډ اېکس۳ لړۍ څلور نوي پیاوړي ځیرک موبایلونه چې فاینډ اېکس۳، اېکس۳ پرو، اېکس۳ نیو او اېکس۳ لایټ نومول شوي دي، معرفي کړل. دغو ځیرکو موبایلونو کې فاینډ اېکس۳ نیو او فاینډ اېکس۳ لایټ ارزانه او فاینډ اېکس۳ پرو تر ټولو غوره ځانګړنې او لوړه بیه لرونکي ځیرک موبایلونه دي. په دې لنډه لیکنه کې یوازې فاینډ اېکس۳ پرو در پېژنو. دغه ځیرک موبایل کې د کوالکام کمپنۍ تر ټولو وروستی او پیاوړی پروسېسر، سنپ ډراګن۸۸۸، کارول شوی دی او ٦٫۷ انچه اېل ټي پي اولېډ ډوله او کواد اېچ ډي پلس ریزلوشن لرونکې مخ‌پاڼه لري، چې له ۱۲۰ هرتز رېفرش رېټ څخه هم ملاتړ کوي. فاینډ




اېکس۳ پرو ۴۵۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري چې له ٦۵ واټ چټک چارج څخه ملاتړ کوي او یوازې ۳۰ دقیقو کې له صفر څخه ۱۰۰ سلنه چارجېږي. فاینډ اېکس۳ پرو کې ۱۲ ګیګابایټ رم او ۲۵٦ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې، چې د مارچ په ۳۰مه به په مختلفو هېوادونو کې خرڅلاو ته وړاندې شي. د دغه ځیرک موبایل بیه ۱۱۴۹ یورو ټاکل شوې ده.

د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې ټي ام او ماسټر ډبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانیستلی شي. همدا راز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او 50 ډالرو سره پرانیستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالي چمتو کوي.



عزیزي بانک
Azizi Bank
WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT

www.azizibank.af
1515